مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباری جهانی

۲۰۲۱/۱۱/۰۳

# غزل

زه چي لــه خــزان ســره ژړېږم تــه به نه ژاړې
پــانــه یــم د بــاد پــه تــاو رژېږم ته به نه ژاړې
زه هــم د بــهــار د مــرغــکیــو ځــالګــۍ ومــه
ځانګه یم وچېږمه مــاتــېږم تــه بــه نــه ژاړې
ماته مــي قسمت له خپلـي ژبـي اور لـیکلی دی
پرېږده چي دی مخي تـه بلېږم تـه بـه نـه ژاړې
نــور بــه د پــانــوس لــه رنــګــینیه ګیله نه کوم
زه لـه بـېـرنـګـۍ ســره سـوځـېږم تـه به نه ژاړې
زه به ستا محفل ته زلمۍ شپې له کومه راوړمه
ځاځکی یم په موج کي فنا کیږم تـه بـه نـه ژاړې
زما یـې پـه تیارو پسي تیارې پر تندي کښلي دي
وړانګي ته په تمه چي زړېږم تـه بـه نـه ژاړې
زه او خدای پوهیږو چي هینداري پرون څه ویل
نن چي مي له دار سره زنګېږم ته بـه نـه ژاړې
مـا مي د بـابـا پـه هـدیره کي ځــان لیــدلــی وو
اوس چي پر پردي ولات ښخېږم ته به نه ژاړې
ژونـد مي جـهاني یــوه شېبه پــر بانــو ولیــکــه
اوښکه یم په لاره کـي وچېږم تـه بـه نـه ژاړې

د ۲۰۲۱ کال د نومبر دوهمه ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ